(Published on *Institute for War and Peace Reporting* (https://iwpr.net)



# د مزارشریف شار ته د پولیسو نوی واك واستول شو

**Author:** Qais Faqiri

مرکزي حکومت د شمال دجنگ سالارانو تر منځ د جګړو له امله راولاړې شوې امنیتي وضعې د کنټرولو لپاره هلته د پولیسو ځواك استولی دی.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د بلخ په ولایت کې د رامنځ ته شوې تازه اخ وډب له امله له کابل څخه مزارشریف ښار ته د امنیت د بیرته راستنولو په منظور د پولیسو یو درې سوه کسیزه ځواك استولی دی. دا پولیس چې به لږ تر لږه د مزارشریف په ښار کې د پنځو میاشتو لپاره پاتې شي، د پولیسو د ګزمو شمیر به زیات کړي او همدارنګه د هغه پولیسو د ځای تشه به هم ډکه کړي، چې د بلخ ولایت په نوې جوړه شوې اکادیمی کې تر روزنې لاندې نیول کیږي.

د 2001 کال په نومبر کې د طالبانو له رانسکوریدو راوروسته شمال ولایتونه د پخوانی شمال تګلوالې د دوو قوماندانانو جنرال عبدالرشید دوستم، د ولسمشر حامد کرزي امنیتي سلاکار او جنرال عطا محمد د اوومې قول اردو قوماندان ترمنځ د قدرت د ترلاسه کولو د سیالی ډګر ګرځیدلي دي.

د جنرال عطا محمد پوځي واحد د نوې لویدیځ روزونکي افغاني ملي اردو برخه نه ده او د جمعیت اسلامي له تنظیم او د دفاع له وزیر محمد قسیم فهیم سره تړاو لري.

دوستم د اوردي مودې لوبغاړی، چې په اتیاوموکلونوکې د شوروي پلوي قوماندان په توګه یې په دندې پیل وکړ، د جنش ملي اسلامي د ډلې مشري کوي.

زیاتره تنظیمي جګړې د اتلسو میاشتو راهیسي له مزارشریف بهر د بلخ ولایت په شاوخوا کې واقع شوي دي. خو د ښار کنترول، چې داقتصادي سیاسي ګټو زړی جوړوي، د سیالو قوماندانانو ستره هیله ده. په ملکي وګړو باندې د جنایتونو د ځپو تور په هغو سرتیرو اچول کیږي، چې په دې دواړو ډلو پورې تړلې دي.

سیمه ییزو خلکو ددې نویو پولیسو په راتګ د خوښی او خوشحالی څا ایستلی ده. د بلخ ولایت د پوهنتون د طب د پوهنځي زده کوونکې محجوبه فرشته وایي: "مور تل په اندیښنې کې یو. آن پوهنتون ته د تګ په لار. هیڅکله په لوستونو تمرکز نه شو کولای." حمیده همدرد د یوې سیمه ییزې موسسې مشره، چې د میرمنولپاره د سواد د زده کړې کورسونه جوړوي، آی ډبلیو پي آر ته وویل، چې د هغې له 300 تنو زده کوونکو څخه 50 تنه یې د ځیرمه پوستو د سرتیرو د مزاحمت له امله کوروسونوته نه راځي. هغه وایي: "وسله وال سړي زمور زده کوونکي ډاروي." نوموړې زیاته کړه: "څه موده وړاندې هغوی زه په لرګي په شا ووهلم. زه ملا ته د شکایت لپاره لاړم، خو ملا راته وویل، چې له دې خلکو سره د مقابلې ځواك نه لرم."

نوي پولیس په سیمه کې د تاو تریخوالي د زیاتیدو د مخنیوي په منظور راغلي دي. وروستی جګړې د اکتوبر د میاشتې په لومړی اوونی کې هغه مهال په مزارشریف کې رامنځ ته شوې، چې د دوستم دوه تنه قوماندانان و تښتول شول. برید کوونکي ونیول شول خو بیرته ژر خوشې کړای شول.

د اکتوبر په نهم په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د معاونت دفتر (یوناما) او په کابل کې د برتانیې د سفیر په ملاتړ د افغانستان د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي د اړوندو ډلو ټپلو سره له خبرو اترو وروسته روغه جوړه رامنځ ته کړه . تړون دوستم او عطامحمد لاسلیك کړ، چې د هغې له مخې به یو کمیسون کې د جمعیت او جنبش په ګډون د یوناما او د برتانیې تر مشری لاندې د ولایتي بیارغاونې د ډلي استازي برخه ولري او د تښتول شوو قوماندانانو په هکله به موضوع وڅیړي او د اوربند څارنه به وکړي.

د تړون د پلي کولو سره د مرستې په غرض جلالي ویټیله چې د ملي ځواك پولیس دې ښار ته واستوي. دا پولیسي ځواك به د سیمې له پولیسو سره د تلاشی په پوستو کې او همداشان د ګزمو او د ښار په دننه او بهر د تاوتریخوالي په رامنځ ته کیدونکو سیمو کې مرسته وکړي.

زلمی خان مزارشریف ښار ته د لیږل شووو پولیسو له ډلې څخه دی. هغه وایي، د هغه ملګري ښه روزل شوي، له بیلابیلو قومونو څخه جوړ او له هیڅ سیاسي ډلې ټپلې سره تړاو نه لري.

رحمن ګل افغانيار له کابل څخه د پوليسو يو بل ليرل شوی مامور دی، هغه وايي: "مور چمتو يو چې هر راز مزاحمت له منځه يوسو او په بشپړ زړورتوب د هغه چا په وړاندي وجنګيږو، چې غواړي نا‌ارامي راپيداکړي." نوموړی زياتوي: "زه له ټولوخلکو څخه غواړم، چې يو له بل سره لکه د ورورو په څير چال چلند وکړي."

ددې تمه کيږي چې په مزارشريف کې د پوليسو په شته والی به راولاړې شوې ستونزې پخپله د هغه ولايت د پوليسو له خوا له منځه يوړل شي.

د جنرال دوستم پوځي سلاکار جنرال مجيد روزي د وينا له مخې د مزارشريف په ښار کي شته ځواکونه د جمعيت د تنظيم تر ولکې لاندې دي. نوموړی وايي: "زه نه وايم چې ټول په هغوی وي، خو د موجودو پوليسو زياته برخه يې بې پرې نه دي. مور بايد هغه چانګ او وکړای شويو نوی حګواك رامنحګته کړو، چيګ تګولو ألو تګپلو ته د منلو وړ وي."

د مزارشريف د پوليسو قوماندان جنرال عيسی افتخاري نوموړې خبرې ته داسې غبرګون وښود: د پوليسو افراد له اوومې قول اردو څخه ګومارل شوي دي، خو افسران يې ټول مسلکي کسان دي. هغه وويل له اوربند څخه راوروسته امنيتي حالت ښه شوی دی.

د ولايتي بيارغاونې د ډلي وياند تورن ټام بيکر آی ډبليو پي آر ته وويل، له کابل څخه راغلي نوي پوليس به سيمه ييزو پوليسو ته ددې موقع ورکړي، چي د پوليسو په نوې جوړې شوې اکاديمی کې ، چې په پام کې دي په راتلونکې جنوری کې په کار لاس پورې کړي، تر روزنې لاندې ونيول شي. دا روزنيز مرکز چې د امريکا د متحده ايالتونواو برتانيې په ګډه مرسته جوړ شوی، لس اوونيز روزنيزو کورسونو کې به ملکي پوليسو ته سياسي تخنيکونه وروښوول شي او په يو وخت کې به 350 پوليس په هغې کې په زده کړې بوخت وي.

د ښار اوسيدونکي له کابل څخه د راغلو پوليسو په هکله د هغوی د مرستي اوهمدا شان ددغې روزنې هرکلی کوي.

سيد خليل رحمن يو 25 کلن ځوان دی، چې د دوو کلونو راهيسې د پوليسو دنده پر مخ بيايي. هغه له پوليسو سره تر يوځای کيدو دمخه په يوې ديني مدرسې کې تر اووم ټولګي پورې زده کړه کړې ده. هغه وايي: "کله چې پوليسو ته راغلم نو په حقيقت کې په هيڅ شي نه پوهيدم. زه ډيګر ليوال وم، چې روزنه ترلاسه کړم او د پوليسو په هکله څه زده کړم، خو ددې کار لپاره کومه لاره نه وه. اوس چې مې واوريدل په مزارشريف کې د پوليسو اکاديمي جوړيږي، زه ډيګر خوشحال شوم، چې ګوندې وبه روزل شم او څه زده کړه به ترلاسه کړم."

رحمن په دې تمه دی چې ددغې روزنې له بهير وروسته به يې معاش هم زيات شي. هغه وايي چې اوسنی معاش ډير لږ دی او د هغه سمه ګوزاره پرې نه کيږي. نوموړی وايي: "د پوليسو د کار د کيفيت د ښه والي لپاره يې بايد معاشونه لوړ کړای شي، چې په دې توګه به پوليس د رشوت اخيستلو ته اړتيا ونه لري."

**Location:** افغانستان

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/d-mzrshryf-shr-th-d-pwlysw-nw-wk-wstwl-shw